د افغانستان اسلامی امارت
د تخنیکی او مسلکی زده کړو اداره
د لوګر ولایت تخنیکی او مسلکی زده کړو آمریت
د محمد آغې ولسوالی کثیرالرشتوی انستېټیوټ
اداره او تجارت څانګه



د مقالې موضوع:

# سود
## او د هغې ناوړه اغیزې


مسلک آموز استاد
شیرمحمد مسعود
+93 77 71 71 120


بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

د اقتصادي سکتورو له جملې څخه تجارت یو مهم سکتور دی او تجارتي معاملات یا راکړه او ورکړه په تجارت کې د پرمختګ او زیاتې ګټې د لاسته راوړلو سبب ګرځي. په تجارت او بیا د قرض په معاملاتو کې سود (ربا) هغه زیاتوالي ته وایي چې پرته د مالي عوض څخه لاسته راوړل کیږي( هر زیاتوالی چې پرته د عوض څخه وي هغه سود دی) . سود د اسلام مبارک دین له نظره حرام ګرځول شوی دی، الله (ج) په قرآن عظیم الشان کې فرمایي چې روا ګرځول شوې ده تاسو ته بیع او حرام ګرځول شوی دی سود (ربا)، همدارنګه د اسلام خوږ پیغمبر حضرت محمد (ص) هم په زیاتو احادیثو کې د سود حرمت بیان کړی دی.

د اسلام مبارک دین له نظره د سود حرمت هم له ځان سره حکمتونه لري د سود ناوړه پایلې او خراب عواقب له اقتصادي مسایلو نیولې بیا تر ټولنیز ژوند پورې غځیږي. سود په انسان کې حسد، بغض، خودغرضي، بخل زړه تنګی، سنګدلی او زور پرستي سبب ګرځي، سود د انسانیت جوهر له منځه وړي. د سود په وجه په یوه ټولنه کې  شتمن خلک حاکم او د مسکینانو او بې وزله انسانانو حقوق سلب کیږي او هغوی له خپلو حقوقو محروم پاتې کیږي نو د ټولنې ګټه او آرامتیا د شتمنو خلکو په برخه کیږي او ناداره خلک ترې محروم پاتې کیږي او ناداره خلکو ته همیش د حقارت په سترګه کتل کیږي.

سود په زیاترو هیوادونو خصوصاً غربي نړۍ کې د اقتصادي معاملاتو د ګټې یو لامل ګڼل کیږي خو داسې نده هغوی پدې تیروتنه کوي، یوازې د سود لنډمهاله ګټې په نظر کې نیسي خو له زیانونو څخه یې سترګې پټوي. څېړنو دا ثابته کړېده چې په نړۍ کې د بحران یوازینی لامل سود دی، تر ټولو ښه بیلګه یې د امریکا نړیوال اقتصادي بحران دی چې د څېړنو په پایله کې دا وموندل شوه چې د سود له امله دا بحران رامنځته شوی وه.

سود څه دی او کومې ناوړه پایلې له ځان سره لري په همدې څېړنیزه علمي مقاله کې ورباندې بحث کوو هیله چې د درنو لوستونکو د پام وړ وګرځي او د تخنیکي او مسلکي زده کړو د قدرمنې اداري لپاره یو څېړنیزه رساله او علمي پانګه واوسي.

په درنښت

مسلک آموز شیرمحمد "مسعود"

د لوګر ولایت محمدآغې ولسوالۍ د کثیرالرشتوي انسټیټیوټ استاد

# سود او د هغې ناوړه اغیزې

## د سود تعریف او پیژندنه

(ربا) د عربي ژبې لفظ دی چې په لغت کې زیاتوالی، نمو، ترقي کولو او پورته والي ته وایي په پښتو ، دري، اردو او ځینو نورو ژبو کې ورته (سود) ویل کیږي په انګلیسی ژبه کې ورته (Interest) او (Usury) هم ویل کیږي.

له ربا یا سود څخه مراد پر ټاکلي وخت د قرض هغه اضافه پیسې اخیستل دي،د کومو پیسو غوښتنه چې قرض کوونکي له قرض اخیستونکي څخه کوي او دا پریکړه یې له لومړي وخت څخه کړې وي. په شرعي اصطلاح کې د سود تعریف داسې دی ( هغه په شرط ټاکل شوې اضافه ده چې یو شخص یې بې له کوم حق څخه لاسته راوړي )

یا په بل عبارت: د شریعت په اصطلاح کې سود (ربا) هغه زیاتوالي ته وایي چې پرته د مالي عوض څخه لاسته راوړل کیږي. همدارنګه د سود په اړه زیاتو علماؤ مختلف تعریفونه کړي دي چې موږ یې یو څو په مختصر ډول دلته ذکر کوؤ.

۱: ابوبکر سود داسې تعریفوي وایي ( چې سود داسې یو قرض دی چې د یو ټاکلي مودې لپاره پدې شرط ورکول کیږي چې قرض اخیستونکی به د بیرته سپارلو په وخت کې له اصلي قرض سره سره ټاکلی زیاتوالی هم ورکوي ) ددې تعریف څخه لاندې څو خبرې څرګندیږي.

الف: سود زیاتوالی دی په اصل مبلغ باندې

ب : دا پر اصلي قرض باندې داسې یو تفاضل دی چې بیرته ورکول یې یوه معاهده وي یا په خپله خوښه منل شوې وجیبه ده.

ج : دا یو معین تفاضل دی چې د ټاکلې مودې په مقابل کې اخیستل کیږي.

۲: ابن قدامه حنبلي د سود تعریف داسې کوي چې (( په ځانګړو شیانو کې زیاتوالی ته سود وایي چې په کتاب الله ،نبوي سنتو او د امت په اجماع (اتفاق) سره حرام شوی وي) ).

۳: د قرانکریم په آیت کې داسې تعریف شوی چې سود عبارت د هغه زیاتوالي څخه دی چې پرته د عوض څخه وي ( هر زیاتوالی چې پرته د عوض څخه وي هغه سود دی)

۴: د جامع صغیر تعریف داسې دی هر قرض چې څه ګټه وکړي هغه ربا ( سود ) دی.

**د سود  په اړه د رسول کریم (ص) احادیث**

۱- و عن ابن مسعود ( رضي الله عنه ) قال: (( لعن رسول الله (ص) اکل الربا و موکله)) رواه مسلم و النسایی

ترجمه: د ابن مسعود (رض) څخه روایت دی چې وایي رسول الله (ص) لعنت ویلی دی په سود خوړونکي او بل په هغه چا چې په بل باندې سود خوري.

۲- عن ءابي هریره (رضي الله عنه) عن النبي (صلىالله علیه وسلم) قال:((اجتنبوا السبع الموبقات) ) قالو یا رسول الله وماهن؟قال:(( الشرک بالله، والسحر، وقتل النفس التي حرم الله الا باالحق وءاکل الربا، وءاکل مال الیتیم والتولی یوم الزحف،قذف المحصنات الغافلات المومنات ) ) راو ه البخاري.

ترجمه: د حضرت ابوهریره (رضي الله عنه) نه روایت دی چې رسول الله (صلي الله علیه) وفرمایل له ۷ هلاکوونکو څیزونو څخه ځان وساتئ بیا پوښتنه ترې وشوه چې هغه ۷ شیان کوم دي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل د الله(جل جلاله) سره شریک نیول، سحر، په ناحقه قتل کول، سود خوړل، د یتیم مال خوړل، د جنگ له میدان څخه تېښته کول د جنگ په ورځ، دروغ ویل په پاکو او مؤمنو ښځو پسې چې هغه ناخبره وي.

۳- و عن عون بن جحیفه عن ءا بیه (رض) لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم الوشمة والمستوشمة و اکل الربا، و موکله و نهی عن ثمن الکلب وکسب البغي ، ولعن المصورین. ( رواه البخاري)

ترجمه : د عون بن ءابي جحیفه چې دی د خپل پلار څخه روایت کوي او وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت کړی دی په خال لگوونکي او د خال لگولو غوښتوونکي باندې، او سود خوړونکي او په هغه چې په بل باندې سود خوري او منع یې کړې له پیسو د سپي څخه او له هغه پیسو څخه چې د زنا څخه لاسته راځي او لعنت یې ویلی په تصویر جوړونکي باندې.

۴- عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قال: ءاکل الرباو موکله وشاهداه وکاتباه ءاذا علمو به والواشمة والمستوشمة للحسن ، ولاو ي الصدقة والمرتد ءاعرابیابعدالهجرة ملعونون علی لسان محمدٍ صلی الله علیه وسلم (رواه احمد) .

ترجمه : د عبدالله بن مسعود (رض) څخه روایت دی او وایي چې سود خوړونکی او هغه څوک چې په بل باندېي سود خوري او شاهدان یې او لیکونکي یې په داسې حال کې چې دوی پرې خبر وي او بل خال ایښودنکي او خال غوښتونکي چې د ښایست لپاره وي، او منع کوونکي د صدقې او هغه څوک چې مرتد شي له اعرابو څخه پس له هجرت څخه دا ټول ملعونین دي د رسول الله (ص) په ژبه سره.

۵- و عن عبدالله بن حنظله غسیل الملائکة رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم (( دِرهم ربا یاء کله الرجل وهو یعلم ءاشد من ستۀ و ثلاثین زنیة) ) رواه _ احمد .

ترجمه : د عبدالله بن حنظله څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي کله چې څوک یو درهم د سود وخوري په داسې حال کې چې دی ورباندې خبر هم وي نو ددې گناه لویه ده د ۳۳ ځله زنا کولو څخه .

٦- و عن ءابي هریرة (رض) قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ((رءایت لیلة اسری بي لما انتهیناء الی السماء السابعة فنظرت فوقي فاتیت علی قوم بطونهم کلبیوت فیها الحیات ترمن خارج بطونهم ، قلت یا جبریْل من هؤلاء قال هؤلاء اکلة الربا ) ) رواه احمد

ترجمه : د حضرت ابوهریرۀ رضي الله عنه څخه روایت دی او وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د اسرا په شپه کله آسمان ته ورسیدم ما پورته وکتل او زه په یو قوم باندې تیر شوم چې خیټې یې د کورونو (کوټو) په شان وي او ددوی په خیټو کې ماران ؤو چې معلومیدل له بیرون د خیټو څخه یې او ما له جبرایېل علیه سلام څخه وپوښتل چې دا څوک دي هغه راته وویل چې دا د سود خوړونکي دي.

٧- و قال: رسول الله صلی الله علیه وسلم یاتي اکل الربایوم القیامة مخبلاً یجرشقیه

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې را به شي په ورځ د قیامت خوړونکی د سود د لیوني په شان کش کوي به خپل څنگونه(اړخونه).

٨- و عن ابي هریرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلي الله وسلم لیاتین علي الناس زمان لا یبقی احد منهم الا اکل الربوا فان لم یاکله اصابه من بخاره ویروی من غباره. ((رواه –ابوداو د).

ترجمه: د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت ده او وایي چې رسول الله صلي الله وسلم فرمایلي دي چې خامخا به راشي په خلکو یوه زمانه چې نه به وي پاتې هیڅوک له دوی څخه مگر خوړونکي د سود به وي او که څوک سود و نه خوري اثر د سود به خامخا ورته رسیږي (گرد د سود به ورته رسیږي).

٩- و عن عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال (بین یدىالساعة یظهرالربا ، و الزنا، والخمر) ((رواه طبراني) )

ترجمه : د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی او وایي چې رسول الله صلي الله وسلم وفرمایل چې مخکې د قیامت د واقع کیدو څخه به څو شیان ظاهرېږي چې هغه عبارت له زنا، سود ، او شرابو څخه دي .

۱۰- و عن جابر بن عبدالله رضي الله عنه قال رسول الله صلي الله وسلم اكل الربوا و موكله و كاتبه و شاهديه و قال هوسواء. ((رواه مسلم) )

ترجمه : له حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله وسلم د سود په خوړونکي، د سود په ورکوونکي ، د سود په شاهدانو د سود په لیکوونکي لعنت ویلی دی او رسول الله صلي الله وسلم وفرمایل چې دوی ټول په ګناه کې سره برابر ( یوشان ) دي .

۱۱- عن ابي هريرة رضي الله عنه قال : اربع حق على الله ان لا يدخلهم الجنة ولا يذقهم نعيمها مدمن الخمر و اكل الربوا او اكل مال اليتيم بغير حق والعاق لواليده . ((الحاکم) )

ترجمه : له حضرت ابوهریرۀ رضي الله عنه څخه روایت چې رسول الله صلي الله وسلم وفرمایل چې څلور کسان داسې دي چې د هغوی په هکله الله جل جلاله فیصله کړې چې جنت ته به یې نه داخلوي او نه به د جنت د میوو مزه ورڅکي ، هغه عبارت دي د شرابو عادتي ، دوهم د سود خوړونکي ، په نا حقه د یتیم د مال خوړونکي او د مور او پلار نافرماني کوونکي دي.

۱۲- و عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه عن نبي صلي الله وسلم قال: الرباء ثلاث و سبعون بابا يسرها مثل ان ينكح الرجل امه . (الحاکم.والبیهقي)

ترجمه: د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایل د سود وبال درې اویا ډوله دی چې د هغې ادنی او اسانه ډول دادی چې څوک د خپل مور سره زنا وکړي .

**د سود د حراموالي حکمت او مقصد:**

الله (ج) د بندګانو لپاره داسې هیڅ قانون یا حکم نه دی را استولی یا جوړ کړی چې هغه دې د بندګانو په زیان وه اوسي، الله( ج) تر بندګانو پورې په خپلو پریکړو او فیصلو ښه پوهیږي،که یې یو څه حرام کړي یا روا ګرځولي وي په دې کې یې هم خپل حکمتونه شتون لري، نو دا چې سود ولې حرام شوی دی حکمت او مقصد یې څه دی، په دې اړه به په لاندې مبحث کې بحث ورباندي وکړو.

# د سود ناوړه اغیزې

**لومړی** - سود په انسان کې مردود صفات زیاتوي:

د پیل سود جمع کولو نه تر آخري معاملې پورې ټولې مرحلې په خود غرضی، بخل، زړه تنګی سنګدلی او زور پرستی باندې ولاړې دي چې دغه صفتونه د سود سره تړلي دي یعنی هر انسان چې څومره د سود معاملو ته زیات ورنیږدې کیږي په هماغه اندازه دغه مردود صفتونه پکې څرګند او روښانه کیږي چې ددغه صفتونو په وجه یوه ټولنه د هلاکت کندې ته ورنیږدې کیږي او آخر به دغه ټولنه نوموړې کندې ته ورغورځیږي.

**دویم** - سود  په انسان کې عناد او بغض پیدا کوي:

کله چې په یوه ټولنه کې سودي معاملې ترسره کیږي  په هغه ټولنه کې  شتمن خلک حاکم او د مسکینانو او بې وزله انسانانو حقوق سلب کیږي او هغوی له خپلو حقوقو محروم پاتې کیږي او ددوی په زړونو کې عناد او بغض پیدا کیږي او د شتمنو په ضد د مبارزې لاره خپلوي چې په نتیجه کې په ټولنه کې ګډوډې رامنځته کیږي او ټولنه د بدمرغی لوري ته روانیږي. نو د ټولنې ساتنه ددغه رنګ حالاتو څخه  د سود په له منځه وړلو سره کیدای شي ( سود باید ختم شي تر څو ټولنه د هلاکت څخه خوندي پاتې شي ) .

**دریم** - ناداره خلک په ټولنه کې د غلام او مزدور په حیث پیژندل کیږي :

د سود په وجه د یوې ټولنې ګټه او آرامتیا د شتمنو خلکو په برخه کیږي او ناداره خلک ترې محروم پاتې کیږي او ناداره خلکو ته همیش د حقارت په سترګه کتل کیږي، د پیسو (دولت) جریان یو طرفه وي ( د ټولنې ټول مال او دولت د شتمنو لاسته ورځي) چې په دې سره د خلکو ترمنځ صله رحمي له منځه ځي او همدا راز په خلکو کې د سنګدلی او خود غرضی صفت قوي کیږي. نو ددې څخه دا څرګندیږي چې سود باید ختم شي تر څو خلک د ورورولی په فضاء کې ژوند وکړي او د خلکو ترمنځ صله رحمي، مینه او محبت پیدا شي او په ټولنه کې یو د بل سره بلاعوضه د قرض معاملې ترسره کړي چې ددې په نتیجه کې د یوې ټولنې ټول وګړي په کاروبار مصروفیږي او د خپل ژوند د آسوده ګی لپاره په اطمینان سره هڅې کوي. ځکه هر څوک پدې مطمئن وي چې څومره ګټه وکړي هغه یې د ځان لپاره ده او دده په ګټه بل څوک ندی شریک.

**څلورم** - د سود اخلاقي او روحاني زیانونه :

انسانیت یو جوهر لري چې هغه جوهر اخلاق او  روحانیت دی کله چې دا جوهر له منځه ولاړ شي نو انسانیت هم ختمیږي او هر هغه څه چې دا جوهر خرابوي هغه ټول شیان بد او  بې فایدې دي نو  سود هم د انسان دا جوهر ختموي ځکه چې کله یو سړی سود خوړل شروع کړي او خپله سرمایه د سود ددې مردارې طریقې څخه لاسته راوړي نو هغه بیا نه اخلاق پیژني او نه روحانیت او نه انسانیت، هغه فقد پیسې پیژني چې هغه په هره طریقه وي چې فقد زیاتې شي دغه کس بیا نه دوستان پیژني نه خپلولي او  نه ورورولئ او  همیش به د غریبانو وینې زبیښي او  له هغې سره به د بد سلوک څخه پرته بل څه نه وي .

ښه مثال یي په امریکا کې د سپین پوستو او  تور پوستو دی چې سپین پوستي هیڅ وخت تور پوستو ته د انسانیت او  بشـریت په سترګه نه ګوري او هغوی ته د همیش لپاره د غلامانو او مزدورانو په نظر ګوري او همدارنګه که چیرې په یوه ټولنه کې اسلام حاکم وي او  په هغه کې ذکات او  صدقي وي نو په دغه ټولنه کې به د خلکو تر منځ  مینه او محبت وي، هیڅ کله به یو بل ته د حقارت په سترګه ونه ګوري او نه به یو پر بل ظلم او  تیری وکړي بل دا چې په دې سره په هر انسان کې دا احساس پیدا کیږي چې مال او  دولت پیدا کړم بیا ذکات او  صدقه ورکړم چې تر څو الله جل جلاله را څخه راضي او  خوشحاله شي او  د ټولنې خدمتګار شم چې ددې عمل په تکرار سره په انسان کې اخلاقي او روحاني جوهر نور هم تقویه کیږي چې په نتیجه کې ټولنه د فساد څخه د آبادی په لوري روانیږي، جنګ او  دعوی پکې ختمیږي او په خلکو کې د مینې او ورورولۍ احساس ژوندی کیږي دغه خلک او  ټولنه به د شیطاني افعالو او  الهي افاتو او  امراضو څخه د همیش لپاره خوندي وي .

**پنځم** - د سود اقتصادي زیانونه :

څرنګه چې ټولو ته معلومه ده چې  سودي معامله په قرضونو کې رامنځته کیږي نو د قرض معاملات او کاروبار په اقتصاد پورې اړه لري او قرض خپله یوه اقتصادي معامله ده، زیانونه یې ډیر دي څیړنو هم ثابته کړې ده چې په نړۍ کې د اقتصادي بحران یوازینۍ لامل سود دی ښه مثال یې په (۲۰۰۷ - ۲۰۰۸ م) کال کې د امریکا اقتصادي بحران دی چې له کلونو څیړنو وروسته دا جوته شوې ده چې ددې بحران تر ټولو ستر لامل سود وه.

 همدارنګه زمونږ په هیواد افغانستان کې هم د پخواني کابل بانک په (۲۰۱۰ م) کال کې د دیوالۍ (ورشکستګی) او بحران یوازینۍ لامل همدا سود دی چې وروسته د حاکم جمهوري دولت لخوا ورسره مرسته وشوه او کابل بانک په اوسني (نوي کابل بانک) نیمه دولتي تصدۍ باندې بدل شو. دې ته ورته نور مثالونه هم شته چې په نړۍ کې د اقتصادي بحرانونو او ویجاړیو یو لامل حتماً سود ذکر شوی دی نو لدې څخه څرګندیږي چې سود د اقتصادي بحرانونو یوازینۍ لامل دی.

وړاندیز مو دا دی چې زموږ په ګران هیواد افغانستان کې هم د نوي اسلامي حکومت په راتګ سره د هیواد څخه د سود لمن ټوله شي او ټول اقتصادي معاملات بغیر د سود څخه ترسره شي خصوصاً د بانکونو په برخه کې چې اکثره یې تر اوسه پورې هم پر سودي معاملاتو مخته روان دي، هیله مو داده چې د هیواد ټول اقتصادي نظام او بانکي سیستم مو کاملاً اسلامي او د سود څخه پاک کړل شي پدې سره به هم له اقتصادي زیانونو څخه ژغورل شوي وو، هم به مو ګټه زیاته وي او هم به د الهي امر اطاعت ترسره شوی وي.

**مأخذونه**


۱ : قرآن کریم

۲ : نبوي احادیث

۳ : انقیادي، مولوي محمد قاسم، (۱۳۹۴ هـ ش ) روا او ناروا ګټه، چاپ احمدشاهي کتابخانه.

۴ : ادینه، غیرت، (۱۳۹۲هـ ش )، فقه اسلامي، چاپ انتشارات مستقبل خپرندویه.

۵ : حمید،فیاض،(۱۳۹۴ هـ ش )،کاروباري مسایل او اسلامي حل لاري، چاپ د افغانستان ملي تحریک.

٦ : صابر، عبدالواسع، (۱۳۹۳ هـ ش )، نړیوال اقتصادی نظامونه، لومړی جلد، چاپ مستقبل خپرندویه ټولنه

۷ : عثماني، محمد تقي، فتاوای عثماني، دریم جلد، چاپ مکتبه العلوم الدینیه.